# زېړی

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي


د مات لوښي آواز کله ثابت څېږي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي
هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کښتۍ غوندې د خلقو بار بردار شي

"رحمان بابا"


چهارشنبه ▣ ۹ – ۱۲ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۳۳ - ۲۳۶ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د وږي (سنبله) ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د ذوالحجې ۳ مه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د سپتمبر ۱۷ مه


## پوهاند که پوهانده؟

اسدالله غضنفر

پوهاند ډاکتر درخانۍ، پوهانده ډاکتره درخانۍ، پوهانده ډاکتر درخانۍ او که پوهاند ډاکتره درخانۍ؟ په دغو بڼو کې کومه سمه وبولو او د معیار درجه ورکړو؟

د دې پوښتنې د ځواب له پاره په کار ده، په پاسني عبارت کې د (درخانۍ) د علمي لقب او رتبې (پوهاند ډاکتر) ګرامري نقش او مقام معلوم کړو.

په معنوي لحاظ خو د ډاکتر، انجنیر، ډګروال یا ساتنمن په څېر علمي او اداري رتبې او القاب د صفتونو نقش لري. صفتونه (ستاینومونه) د اسم حالت بیانوي او بل خصوصیت یې دا دی، چې شتون یې په موصوف (اسم) پورې غوټه وي، یعنې خپل مستقل وجود نه لري. کله چې (دنګ غرونه) وایو، د غره دنګوالی د هغه له شتون پرته نشته. دغه رتبې هم مستقل وجود نه لري او یوازې د یو شمېر کسانو یو حالت توضیح کوي.

خو تر بحث لاندې رتبې د فورم او شکل په لحاظ صفت نه شو بللای، ځکه د اسمي صفت (چې نن سبا ورته ځینې نږدې ستاینوم وایي او زما په خیال دا پخوانی نوم یې د معنا په لحاظ دقیق دی) او موصوف د ویلو په وخت خج په صفت راځي. مورږ چې (سپینه کوتره) وایو، د ویلو په وخت یې په سپینه فشار اچوو، مګر د (ډاکتر داوود) د ویلو په وخت په (ډاکتر) باندې فشار نه اچوو.

د صفتونو او تر بحث لاندې درجو یو بل فرق دا دی، چې صفتونه هم د خاص اسم له پاره وي او هم د عام اسم له پاره. په (عاقل انسان) کې (عاقل) د عام اسم صفت دی، خو په (ښکلي کندهار) کې د ښکلي صفت د یوه خاص اسم حالت بیانوي. دغه علمي او اداري رتبې او درجې چې په دې لیکنه کې ورباندې خبرې کوو، عام اسم ته نه راځي، له خاصو اسمونو سره غوټه


درېیم مخ


## د ارواښاد وجدي یاد



استاد حبیب الله رفیع

په وروستیو څو لسیزو کې د افغانانو له پاره د ثور میاشت د غمونو په میاشت بدله شوې او درانه درانه غمونه یې افغانستان ته له ځانه سره راوړي، چې د ۱۳۵۷ کال د غويي د اوومې غمیزه یې پیلامه ده.

سږ کال (۱۳۸۴) په ثور کې زه مزارشریف ته د "بلخ د تاریخ په اوږدو کې" تر سرلیک لاندې سیمینار کې د ګډون له پاره تللی وم، زه د سیمینار په تالار کې ناست وم، چې د ګرځنده ټېلفون زنګ راغی، د باندې راووتم، د ټېلفون تڼۍ مې ووهله، غښتلي صاحب را ته وویل: وجدي صاحب وفات شوی! د غم دې ناڅاپي خبر ډېر ودردولم او له واره یې هغه ټول فلم زما مخې ته کېښود، چې له وجدي صاحب سره آشنا شوی وم، وجدي صاحب مې پېژندلی و، له وجدي صاحب سره مې ګډ کلتوري سفرونه او مېلې کړې وې، ګډ سیاسي سفرونه مو سره کړي وو او ګډ قلمي سفرونه.

دا دی د هېواد د دې لوی لیکوال، ادیب، ژورنالست، سیاسي شنونکي او څېړونکي ارواښاد عبدالجلیل وجدي د دې خاطرو یوه برخه د خپل ذهن د خاطرو له کتابه را اخلم او له تاسو سره یې شریکوم:

د ۱۳۳۴ کال خبره ده، زه د لسو کلونو وم، په کابل کې مې د خپل تره له زوی او مربي مرحوم مولوي عبدالحمید طیب سره ژوند کاوه، ده یوه وړه کوټه درلوده، چې تقریباً دوه په دوه نیم مترو کې وه او دواړه اېله په کې ځایېدلو، ده د کابل په عربي دارالعلوم کې زده کړه کوله او ما ته یې په دې وړه کوټه کې په شخصي توګه درس راکاوه، ده دا وخت د هېواد په ورځپاڼه، د زېري په جریده او د پیام حق په جریده کې (پیام حق لومړی د یوې اوونیزې جریدې په توګه راوتلې وچې بیا په میاشتنۍ مجله واوښت) ګډون کړی و، چې هره ورځ به یې د هېواد ورځپاڼه او په اوونۍ کې یو ځل زېری او پیام حق راوړل، دی به چې دارالعلوم ته ولاړ، پر ما پسې به یې وربند کړ او زه به د ده د راتلو تر وخته په درس بوخت وم، کله به مې چې درس زده کړ، مشق به مې وکړ، نو بیا به مې زېری، هېواد او پیام حق را واخیستل، لوستل به مې او ځینې د خوښې شعرونه به مې ترې په خپله کتابچه کې لیکل.

همدا وخت د هېواد په ورځپاڼه کې یوه پرله پسې کیسه خپرېده چې سرلیک یې و: "ړنګې کنډوالې د ملګرو محفل" د دې کیسې یا په اوسني عبارت ناول، په تندي به لیکل کېدل: "لیکونکی: عبدالجلیل وجدي وردګ". زه له همدې وخت او د همدې مطالعې له پیل سره د وجدي صاحب له نامه سره آشنا شوم.

ورو ورو مې د مطالعې ساحه پراخېده او ورسره مې له شاعرۍ او لیکوالۍ سره مینه پیدا


درېیم مخ

# ادبیات له نوي دیده

**● څېړندوی سید نظیم سیدي**

د نړۍ هر علم په کافي اندازه مینه وال او ځانګه وال لري، خو کله ناکله داسې شي، چې مینه وال زیات شي او ځانګه وال لږ. البته متمدنې ټولنې دا هر څه له وړاندې اټکل کولای شي او د پرځله یې له ننګونې سره نه مخ کوي، خو وروسته پاتې ټولنې، چې هر علم یې په ځانې توګه وده کوي، له دغو ننګونو او ستونزو سره ډېرې مخامخ کېږي، زما په نظر، په دغو وروسته پاتو ټولنو کې یوه هم افغاني ټولنه ده، چې د نورو علومو تر څنګ آن ادبیات یې هم له ننګونو او ستونزو سره مخ دي او پر منځپانګې سربېره یې تر اوسه پورې تعریف هم یو څه د تأمل وړ دی. په دې معنا، په ټولې نړۍ کې تر اوسه پورې د ادب د تعریف په اړه څېړونکي په یو نظر نه دي؛ خو هغه نظر، چې کابو ډېرو افغانو پوهانو او څېړونکو ته د منلو وړ دی، هغه دا دی:

«هر هغه وینا، لیکلې وي که نالیکلې "شفاهي"، نظم وي که نثر؛ خو چې هنري ارزښت ولري، ادب بلل کېږي (۱)».

خو لوېدیځوال څېړونکي بیا له دې پېژند سره ډېر همغږي نه دي او وايي: ادب د انګریزي ژبې د literature ژباړې په معنا استعمالېږي او لټریچر د لاتیني ژبې له (litra) ریښې نه وتلې ده، چې د خط او لیک معنا ښندي او پر دې سربېره لټریچر د لیک و لوست کول او پوهې حاصلولو معنا هم ښندي. دا لغوي پېژند نه د ادب لاندې تعریفونه پنځوي:

✓ ادب په عربي کې زیرکي، پوهې او د شه څیز د اندازې ساتلو ته وايي.

✓ ادب هغو معلوماتو ته وايي، چې له کتابونو څخه ترلاسه کېږي. (وسکودس).

✓ د لایقو ښځو او سړیو لیکلي احساسات او خیالات په داسې رنګ څرګندولو ته وايي، چې لوستونکي ورڅخه خوند واخلي. (بروک)

✓ په ادب کې منطقي رښتیا خو نه وي، ولې ادبي صداقت په کې وي. (ارسطو).

✓ قدرت چې انسان ته کوم دایمي څیزونه ورکړي دي، د هغو څرګندونه لطیف ادب دی. (میاکن).

✓ ادب د انساني ژوند تفسیر دی. (آرنولډ)

✓ ادب د انسان هغه هڅه ده، چې انسان یې په وسیله د خپلو تېروتنو تلافي کوله. (امرسن) (۲). خو اروابناد پوهاند حبیبي یې په اړه بیا داسې وايي: «ادب په عربي ژبه ښېګړې او کیاست او د ژبې او زړه ظرافت او ذکاوت ته وايي، چې ظرافت او حسن تناول یې لنډ لغوي تعریف دی، اما په اصطلاح کې ادب په دې ډول تعریف کېږي: ادب هغه پوهنه یا ښه ریاضت دی، چې سړی د هغه په وسیله یو فضیلت او یو ښېګړه له ښېګړو څخه مومي یا له تېروتلو او خطاو څخه ژغورل کېږي. خلاصه، ادب د لغت او اصطلاح لامله ښېګړې ده، چې سړی له خطا او بد څخه ساتي او په خوی او خلق اړه لري، چې بیان یې د اخلاقو د علم کار دی او دلته په دې بحث اړه نه لري (۳)». خو د اروابناد پوهاند حبیبي نظر هم د ادب په اړه پخواني او ابتدایي دی او لکه څنګه چې معلومېږي، نومړي دا را اخیستنه له عربي فرهنګونو څخه کړې، چې معمولاً فرهنګونه اوس کال په کال بدلېږي او له نویو زیاتونو سره چاپېږي. البته په خپل وخت سره همدغه تعریفونه اوچت او د منلو وړ تعریفونه وو، خو دا چې نړۍ هره ورځ په بدلون کې ده او نوو پدیدو د نورو علومو تر څنګ ادب ته هم لاره پیدا کړې، نو دا تعریف هم یو څه د تأمل وړ برېښي او د اوسنیو غوښتنو له مخې، ځینې نیمګړتیاوې او که ساده یې ووایم، کمبودۍ لري، چې باید اوسني پوهان یې بشپړې کاندې، خو که له اروابناد حبیبي ور تېر شو، نو د ادب په اړه اروابناد پوهاند رښتین هم خپل پېژند لري، چې په لاندې توګه به ور ته نغوته وکړو: «د عربو په لغت کې د پوهې زیرکي، بلنې او د هر شي د اندازې د ساتلو په معناوو راغلی دی او په اصطلاح کې ادب پر دوه ډوله دی، یو نفسي ادب، چې اخلاقي فضیلت او ښېګړې ته وايي او بل داسې ادب دی، چې له دې څخه مطلب په ښه طریقه ویل او لیکل او خپل مطلب ښکاره کول دي (۴)».

نو که د استاد رښتین د ادب تعریف ته په دقیقه توګه وګورو، له دې پېژندنې هم داسې معلومېږي، چې ګواکې د ادب کلمه له عربو راغلې او کابو کټ مټ په پښتو ژبه باندې تطبیق شوې ده، په داسې حال کې، چې په اوسنۍ زمانه کې د پخوانیو تعریفونو ناقد لیکوال اسد الله غضنفر له دې خبرې سره مخالف دی او وايي: «زموږ په ژبو کې د (ادبیات) کلمه پخوا نه وه، ډېر امکان شته، چې دا کلمه په وروستیو پېړیو کې له اروپایي ژبو سره د بلدتیا او له هغو ژبو د ژباړې په نتیجه کې جوړه شوې وي (۵)».

ځلورم مخ

# "د افغانستان ادبیات په پښتو ژبه"

**څېړنپوه عبدالرحیم بختاني خدمتګار**




"د افغانستان ادبیات په پښتو ژبه" هغه کتاب دی، چې "الفتینا سیر ګیفنا ګیراسیموا" کښلی دی. دا کتاب د پخواني شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ د ختیځ پېژندنې انستیټوټ له خوا په ۱۹۸۶ ز کال په مسکو کې د علومو په مطبعه کې په (۱۶۰) مخونو کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې له ۱۹۴۰ ز څخه تر ۱۹۸۰ ز کال پورې د افغانستان د ادبیاتو په اړه څېړنه شوې ده.

کتاب د لیکوال په سریزې سره پیلېږي او څلور فصلونه لري.

لیکوال د سریزې په یوه برخه کې د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د پرمختګ په اړه داسې لیکي: د افغانستان د معاصرو ادبیاتو پرمختګ د شلمې میلادي پېړۍ په لومړیو کلونو کې پیل شو. په افغانستان کې د معاصرو ادبیاتو د وروسته پاتې والي عوامل، په سیمه کې د انګرېزي استعمار د فعالیتونو او د محلي امیرانو د غفلت له امله و. د نولسمې میلادي پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په پیل کې کله چې افغانستان خپل استقلال ترلاسه کړ او د مشروطیت غورځنګ بریالی شو، بیا د افغانستان د معاصر ادبیاتو پرمختګ هم پیل شو.

د کتاب د لومړي فصل سرلیک "د فکرونو ویښتیا او د افغاني روښانفکرۍ ځانګړنې" دی. په دې فصل کې د افغانستان له استقلال څخه وروسته په افغانستان کې د مطبوعاتو او ادبیاتو د ترقۍ او پرمختګونو په اړه ژوره څېړنه شوې ده، په ځانګړي ډول د محمود طرزي او د هغه د همکارانو د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې شوي دي. د همدې فصل په پای کې د استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدالرووف بینوا، مولانا قیام الدین خادم، پوهاند صدیق الله رښتین او څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار د ژوندلیکونو، آثارو او افکارو په اړه ژوره څېړنه شوې ده. د دوهم فصل سرلیک "د تېروخت پوهه او تاریخي نثرونه" دی. د درېم فصل سرلیک "د معاصر وخت پوهه او ریالیستي حرکتونه"، د څلورم فصل سرلیک "نوي افقونه" دي. په دې فصل کې د افغانستان ادبیات د ثور له کودتا څخه وروسته څېړل شوي دي. له څلورم فصل څخه وروسته پایله ده، بیا د مأخذونو فهرست وړاندې شوی دی. په دې کتاب کې نږدې له ۱۰۹ منابعو نه ګټه اخیستل شوې ده. په پای کې د ختیځو مؤلفینو د نومونو فهرست ترتیب شوی او په دې کتاب کې یې یادونه شوې ده.

نومړی کتاب تر اوسه پورې په پښتو ژبه نه دی ژباړل شوی. په دې برخه کې زما وړاندیز دا دی چې دا باید په پښتو ژبه وژباړل شي او د پوهې او ادب مینه والو ته وړاندې شي.

# یونلیکونه

**پوهنمل اجمل ښکلی**

په پښتو کې چې څومره د یونلیکونو اړتیا ده، هغومره یونلیکونه نشته. ښایي علت یې یونلیک ته زموږ د لیکوالو بې تمایلي وي، خو د دې تغافل تر شا نور لاملونه هم دي. مثلاً: موږ په خپل ادب کې هومره ډېر یونلیکونه نه لرو چې د شعر یا داستان غوندې ورسره لوستونکي بیا بیا مخ شي او د سفرنامو لیکلو ته یې ولمسوي.

بل علت یې یونلیکونو ته د ادبپوهانو ناپامي هم ده. پر یونلیکونو باندې د شعر او د نثر د نورو ډولونو هومره لیکنې نه دي شوې. که پر یونلیک باندې لیکنې ډېرې شي او خلک د یونلیک له خوند او اصولو خبر شي؛ نو دا برخه به هم بډایه شي.

له داستاني ادب سره د یونلیک لوی توپیر دا دی، چې د سفرنامې پېښې رښتیا وي، خو په کیسه ییز ادب کې دا اصل د تطبیق وړ نه دی. د سفرنامې پېښې که رښتیا نه وي، لوستونکي پرې باور نه کوي. له دې نه ښکاري چې لوستونکي د نور ادب پرخلاف یونلیک د واقعیت پر بنسټ لولي.

د طرز یا خبرې مبالغه هم پېښه د واقعیت له دایرې وباسي؛ نو کوم کار چې څرنګه ترسره شوی وي، هماغسې یې انځورول په کار دي. پېښې ته له ښکرونو او وزرونو جوړولو ډډه په کار ده، خو د دې مطلب دا نه دی چې لیکوال دې له ادبي ژبې استفاده نه کوي. د راپور یا د جغرافیې معلوماتو او یونلیکونو توپیر په ژبه کې دی. د یونلیک ژبه ادبي وي او لیکوال د بېلابېلو صحنو، منظرو او اشخاصو د انځورولو له پاره له توصیفي سبک کار اخیستلی شي. مثلاً: د کابل ژمی له عقربه پیلېږي، خو عموماً په کې ژمی، لکه د دې ځای د سرزورو غوندې زورور دی، منې چې څو پر ځان خبرېږي، ده یې ورمېږ ورتاو کړی وي. منې خبر وي چې ژمی راپسې راخوشې دی؛ نو بس په څو ورځو کې دننه دننه خپلې کرشمې وښیي. پر طبیعت خپل رنګارنګ څادر خپور کړي. ډېرو شاعرانو له منې نه سر ټکولی. منې یې چې لیدلې چې د پسرلي شنې ونې او رنګارنګ ګلونه رژوي؛ نو خپله داخلي نهیلي، بربادي او ویجاړتیا وریاده شوې ده، خو دا خبره سمه نه ده. منې هم خوندور وي؛ خو ژور نظر غواړي. په منې کې د ونو بوټو سرې پاڼې او ژېړغوني رنګ سړي ته خوند

درېیم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورووونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# پښتو ژبه او ژباړه

ژبه یو غړېز نظام او سیستم دی، انسان یې د اړیکو ټینګولو او مفاهمې ترسره کولو له پاره کاروي، چې دا د بشر له بنسټیزو ځانګړنو څخه شمېرل کېږي. له دې وراخوا ژباړه یا ترجمه هم یوه ژبنۍ عملیه ده، چې په شفاهي او یا لیکلي ډول له بلې ژبې څخه د یوې خبرې، مطلب، مفهوم او یا متن رالېږدولو او رااړولو ته وایي، په داسې توګه چې څه په کې کم یا زیات نه شي او لوستونکی یا اورېدونکی پر رانقل شوي متن، مفهوم، مطلب او خبرې داسې پوه شي، لکه د لومړۍ ژبې لوستونکی یا اورېدونکې چې په پرې پوهېږي.

ژباړه د ولسونو او تمدنونو ترمنځ د یوه پُل حیثیت لري او له لارې یې د ملتونو او ولسونو پر فرهنګ او هغه څه چې د هغوی د عقیدې، فکر، ادب، علم، تجربو، نظریاتو او اختراعاتو محصول دي، پوهه ترلاسه کېږي او د بلې ژبې ویونکي ترې بشپړه استفاده کولی شي.

دغه راز ژباړه د ملتونو د افکارو او تمدنونو د پېژندلو او د نړۍ د مختلفو وګړو ترمنځ د کلتوري اړیکو د ټینګولو ښه وسیله ده. سره له دې چې ژباړه یوه پېچلې عملیه ده، چې له زده کړې، ابداع او هنریت سربېره د اصلي (لومړۍ) او دویمې (هدفي) ژبې مطالعې ته اړتیا لري، خو د ژبې د پرمختګ او هم د بشري پوهې د پرمختیا، پراختیا او د بشر د ذهني ودې لامل کېږي. دا چې پرمختګ د ژوندیو موجوداتو له ځانګړنو څخه دی، نو ژوندۍ ژبه هم د نورو ژوندیو کایناتو په څېر باید چې وده او پرمختیا ومومي.

د ترلاسه شویو معلوماتو له مخې، په پښتو ژبه او ادب کې لومړی څرګند ژباړن په درېیمه هجري پېړۍ کې ابومحمد هاشم سرواني دی، چې تردې وروسته د پېړیو په اوږدو کې د یوې ټولنیزې او بشري اړتیا په توګه دا لړۍ تر ننه روانه ده، خو په معاصر تاریخ کې د علومو او فنونو د پراختیا او په بېلابېلو

# پړپکړه

لنډه کیسه:

◇ ژباړه: ښېرندویه عاقله سادات

نسیم زما ټولګیوال و، ما له زده کړې سره ډېره مینه درلوده؛ خو دا ټولنه یواځې مینې او شوق ته نه ګوري؛ بلکې نوم، نسب، کورنۍ، پیسې او مقام ته ګوري، زه د یوې خوارې کلیوالې کورنۍ غړې وم. یوه ترور مې مریم په ښار کې اوسي، ما چې لومړنۍ زده کړې پای ته ورسولې؛ نو له خپل پلار څخه مې وغوښتل، چې په ښار کې د نورو زده کړو له پاره د تګ اجازه راکړي؛ خو هغه راسره ونه منله، خو وروسته یې زما په ډېر ټینګار اجازه راکړه؛ خو د ترور کره د استوګنې په شرط، زه د ترور کره مېشته شوم. د ترور مې دوې لوڼې وې، دواړو به په درسونو کې راسره پوره مرسته کوله او د درس ټولې اسانۍ یې راته برابرولې. نسیم په ټولګي کې راسره ډېر بد چلند کاوه او سخته دښمني یې راسره راواخیسته، هغه ته لکه چې پته لګېدلې وه، چې زه د یوې بېوزلې کورنۍ لور یم او نسیم د یوه شتمن پلار زوی و؛ هغه د ښار یو وتلی ډاکټر و، پلار یې خپل شخصي روغتون درلود، چې لوی لوی ډاکټران په کې په کار بوخت وو. نو نسیم ته د ښه ژوند ټولې اسانۍ برابرې وې. هغه خو پوهنتون ته د زده کړو په نامه راغلی و؛ خو د درس په ځای یې ټوله ورځ په لوبو تېروله. کورنۍ یې فکر کاوه، چې هغه د زده کړې له پاره پوهنتون ته تللی دی؛ خو هغه د زده کړو او پوهنتون پر ځای ټوله ورځ خپل ملګري په موټر کې هر ځای ته بېول او ټوله ورځ په همدې بې ځایه کارونو او لوبو بوخت وو او خپل ټول وخت یې همداسې په ګرځېدا تېراوه. نسیم او د ده په څېر یو څو نور ټولګیوال، چې د درس په پلمه لوبو او وخت تېرولو ته راغلي وو، یو خوا شول او بلې خوا ته زموږ ډله شوه چې موخه مو درس وو او د زده کړو له پاره پوهنتون ته راغلي وو؛ یو ټولګی دوه ډلې شو.

ما به خپل درسونه ویل او ټول پام مې خپلو زده کړو ته و او له خپل کار سره مې کار درلود، ځکه چې ما ته خپله بېوزلي، ارزښت او مقام معلوم و. زما پلار یو خوار او فقیر بزګر و، خدای خبر چې زما د درسونو او پوهنتون خرڅ یې په څومره خوارۍ برابراوه او زه یې د خپلې ترور کره په ښار کې د پره کړې وم.

یوه ورځ استاد نه و راغلی، په ټولګي کې د دواړو خواوو تر منځ جګړه شوه، نسیم له خپلې ډلې سره په سندرو پیل وکړ؛ خو چې موږ له سندرو څخه منع کړل، پر هغوی بده ولګېده، له موږ سره یې جګړه پیل کړه، په همدې ګډوډۍ کې د نسیم یوې ملګرې (سایرې) د یوې نجلۍ له دستکول څخه پیسې راووېستې او زما په بکس کې یې کېښودې، څه شېبه وروسته مدیره

نسیم او د هغه له ډلې څخه مې خپل ځان ژغوره، اوس نو نوره هم ښه وپوهېدم چې هغه زما دښمن دی، هغوی د خوارانو لیاقت او پرمختګ نه شي زغملای. ما د دې له پاره چې د نسیم له دښمنۍ مې ځان ژغورلی وي، نو د خپلې ناستې ځای مې هم بدل کړ او له نجونو سره مې خبرې کول هم پرېښودل، یواځې او یواځې خپل ټول پام مې درسونو ته واړاوه.

نسیم د دښمنۍ د پاللو له پاره د یوې لویې لوبې پروګرام درلود. په هغې ورځ پوهنتون ته نه وم تللې او په کور کې مې سبانۍ کورنی کار کاوه، چې د ټېلفون زنګ راغی، د اتفاق له مخې په هغه ورځ مې د ترور خاوند هم په کور کې و، ما د ټېلفون زنګ ته دومره اهمیت ورنه کړ او له ځان سره مې وویل، کېدای شي بیا د کوم چا ټېلفون وي، ځکه چې ما په ټولګي کې یواځې دوو نجونو ته د ټېلفون شمېره ورکړې وه او هغوی هم پرته بې ضرورته ما ته ټېلفون نه کاوه، زه په خپلو درسونو بوخته وم، چې اسحاق اکا (د ترور خاوند) مې او له هغه سره یو ځای ترور مې خواته راغلل، دواړو د خبرو ډزې راباندې پیل کړې او ډېرې سپکې سپورې یې راته وکړې او چلند یې راسره ډېر ناوړه وو؛ خو زه یې په لامل پوهه نه شوم، نو پوښتنه مې وکړه، چې آخر خبره څه ده؟ اسحاق اکا د ټېلفون په اړه خبرې کولې او ویې ویل، چې دا فرید څوک دی چې تا ته یې ټېلفون کړی و، خو ستا پر ځای ما خبرې ورسره وکړې، له خبرو یې داسې څرګندېده، چې په لږ وخت کې مو ښه آشنایي سره پیدا کړې ده، هغه ځان ستا له نږدې دوستانو څخه معرفي کړ، حتماً کومه خبره شته چې موږ پرې نه یو خبر، د هغه له خبرو داسې معلومېده، چې پرون تاسو د لیدو کتو وعده کړې وه، خو ته نه وې ورغلې او د نه ورتګ د لامل پوښتنې له پاره یې ټېلفون کړی و او د بیا لیدو ځای یې درښود، د هغه له خبرو څخه داسې ښکارېده چې د خبرو کولو تمییز یې نه درلود او یو ذره شرم او حیا یې نه

کړې وو او خدای خبر چې څه څه خبرې یې زما له خوا ورته کړې وي او ورته یې ویلي وو، چې لور مو د زده کړو او درس پر ځای دلته ستاسو نوم له خاورو سره یو کاوه.

موږ خو ډېره هڅه وکړه چې پوهه یې کړو، خو اوس مو تاسو ته در ولېږله، هغه تاسو ښه پوهولی شئ، د هغې له پاره همداسې ژوند ښه دی، هغه د درس او پوهنتون په قدر او ارزښت نه پوهېږي. زما کورنۍ، مور او پلار خور او ورور مې نور ماته په عجیب نظر کتل او داسې ښکارېده، لکه زه چې یوه پردۍ نجلۍ اوسم او د کور غړې یې نه شمېرلم. زه ډېره خفه وم او له ځان سره مې فکر کاوه چې ولې مې کورنۍ دومره را څخه پردۍ شوه، ان چې مشر ورور مې په مخ په څپېړه هم ووهلم او نوره یې له کوره بهر نه پرېښودم. ما دا هر څه خپله بده برخه وګڼله او چوپه خوله مې غوره وګڼله، ځکه هېچا زما په خبرو باور نه کاوه او نه یې د څه سپیناوي وار راکاوه، وخت همداسې تېرېده، چې یوه دوې میاشتې وروسته مې یوه ټولګیواله (نازیه) لیدو ته راغله، هغه لومړی زما د ترور کره تللې وه، هغې ټوله موضوع ورته بیان کړې وه او زموږ د کور پته یې هم ورکړې وه، نازیې راته وویل: ته چې پوهنتون ته نه راغلې؛ نو یو څو ورځې وروسته، نسیم خپلې ډلې ته وویل، چې زموږ پلان بریالی شو، هغه نجلۍ مو له پوهنتون څخه بېزاره کړه او د تل له پاره مو یې زړه له پوهنتونه ورموړ کړ، مونږ داسې ډېرې نجونې له پوهنتون څخه ناهیلې لېږلې او له پوهنتون څخه مو تېښتې ته اړ کړې دي.

نسیم او د هغه ډله ډېره خوشاله وه، ما هڅه وکړه چې اصلي خبره ځانته معلومه کړم، یو څو ورځې وروسته مې ټول معلومات ترلاسه کړل او راته معلومه شوه، چې نسیم خپل یوه ملګري ته ویلي و چې تاته ټېلفون وکړي او ډېره تنګه دې کړي؛ خو چې په لومړي ځل یې تا ته ټېلفون وکړ، نو ستا پر ځای ستا اکا ورسره خبرې وکړې

نړیوالو ژبو د هغو انعکاس د ژباړې اهمیت له بل هر وخت زیات کړی دی.

د پښتو ادب په معاصره دوره کې له تېرو څو لسیزو او په ځانګړي ډول په دې وروستۍ یوه لسیزه کې په انفرادي او هم د بېلابېلو علمي او فرهنګي ټولنو او کړیو له لوري پښتو ادب ته ډول ډول د پام وړ ادبي آثار راژباړل شوي، چې دا د ستایلو چاره ده، خو هیله ده دا بهیر لا پراخ او له نړیوالو ژبو لا نور ډېر ارزښتمن آثار پښتو شي. د دې له پاره چې دا بهیر ګړندی او ځواکمن شي، هیله ده، هغه لیکوال چې په بهرنیو ژبو پوهېږي، دې ټکي ته هم پام وکړي، چې پښتو ژبه او ادب نړیوالو ته ور وپېژني، دغه راز دې د یو شمېر نامتو او پیاوړو لیکوالو آثار هغوی ته د دوی په ژبه ور وژباړل شي، ځکه هر هېواد کولی شي خپل یو شمېر عالي آثار د نړیوال ادب یوه برخه وګرځوي او د نورو ملتونو د ادبیاتو لوستونکو ته یې د خپل ادبي میراث او پانګې په توګه ور معرفي کړي. نړیوال ادب ته د ځان رسولو له پاره همدا غوره لاره ده.

په دې برخه کې یو لړ لومړنی هڅې شوي، خو باید دغه چاره نوره هم پراخه او عامه شي، د بېلګې په توګه، پښتو لنډۍ، د رحمان بابا او خوشحال ختک اشعار، د استاد الفت نثرونه او دغه ډول نور عالي آثار نړیوالو ژبو ته وژباړل شي، ترڅو هغوی پرې پوه شي او یو مهال د نړیوال ادب یوه برخه وګرځي. دغه راز هغه آثار چې په نړیوالو ژبو په ځانګړې توګه د پښتو ژبې او ادب په اړه کښل شوي او همدارنګه دې د نورو علمي او ادبي مسایلو په اړه ډېر ارزښمتن آثار پښتو ته را وژباړل شي. دغه راز وړاندیز کېږي، چې:

- د بېلابېلو فرهنګي او ادبي ټولنو ترمنځ دې د آثارو د ژباړو په برخه کې همغږي رامنځ ته شي.
- د ژباړې د فن په اړه دې عام پوهاوی رامنځ ته شي، په دې برخه کې غونډې، کنفرانسونه او سیمینارونه جوړ او هم دې د ژباړې یو لا رښود چاپ او خپور شي.
- هڅه دې وشي، چې له لومړۍ ژبې څخه ژباړه وشي، نه دا چې له دویمې یا درېیمې ژبې هغه هم له کره ارزونې پرته.
- د علومو اکاډمۍ د اړوندو مرکزونو او په اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې دې د پښتو ژباړې له پاره انستیټیوټونه یا ادارې رامنځ ته شي او په دې برخه کې دې هراړخیزې هڅې وشي.
- د ژباړې چارو د څارنې له پاره دې یوه باصلاحیته کمېټه رامنځ ته شي.
- یو شمېر غورو ژباړو ته دې د دولت په کچه د هغوی او نورو د هڅونې په موخه جایزې، ستاینلیکونه او ډالۍ ورکړل شي.

په همدې هیله

زموږ ټولګي ته راغله او د جګړې لامل یې وپوښت، نو سایره له خپل ځای څخه پورته شوه او ویې ویل، موږ د خپلې ټولګیوالې له بکسه د پیسو په غلا نښتي یو. د هغې د خبرو په اورېدو ټول حیران شو، مدیرې د نجونو بکسونه تلاشي کړل، نو پیسې (زر روپۍ) زما له بکسه راووتې. ټولو نجونو ما ته په حیرانۍ وکتل او د شرم شرم ناري پورته شوې، ما ته چا د څه ویلو وخت رانه کړ او مدیرې د دې ګناه د سزا له پاره له پوهنتون نه د ایستو اخطار راکړ، ما له خپلو ښوونکو څخه مرسته وغوښته، هغوی هم د دې له پاره چې په درسونو کې زما د لیاقت له امله له ما څخه راضي وو، نو زه ورته په همدې ګرانه وم او تل به یې زما تعریف کاوه. هغوی زما مرسته وکړه او له سزا یې وژغورلم.

نور نو ما له ځان سره ډېر احتیاط کاوه او له درلوده، ما ته یې دا پیغام راکړ، چې تا ته یې در ورسوم.

ما چې دا خبرې واورېدې، نو ډېره حیرانه او وارخطا شوم، چې دا څه چل دی او دا نو بیا ځوک شو چې داسې په ټېلفون کې له اسحاق اکا سره غږېدلی دی، په دې کې مې ناڅاپه ترور هم په ما خوله راخلاصه کړه او په سټغو سپورو یې لاس پورې کړ، چې د پوهنتون په نامه له کوره وځې، خدای خبر چې څه څه ګلانو ته اوبه ورکوې؟ کورنۍ دلته د زده کړو له پاره رالېږلې یې او ته خپل وخت له ځوانانو سره په چکرو تېروې، زه نور یوه ګړۍ هم تا ته په خپل کور کې د اوسېدو اجازه نه درکوم، ترور مې ژر ژر زما کالي راټول کړل او پر سبا یې په موټر کې کېنولم او خپل کور ته یې ولېږلم، هغوی کور ته زما له رارسېدو لا پخوا زما د مور او پلار غوږونه ډک او په لومړي ټېلفون د هغوی پلان کامیاب شو او د دوی د ناوړه پلان پایله همدا شوه او څه چې دوی غوښتل، هغه وشول. وروسته نازیې راته وویل چې کاشکی تا خپله بې ګناهي ثابته کړې وای، چې خبره دې حد ته نه وای رسېدلې او نه هم ته د پوهنتون پرېښودو ته اړه شوې وای. زما زړه نور له همغې ورځې له درسه موړ شو، ځکه چې زما د کورنۍ چلن له ما سره ډېر بد شو، دوی دا هڅه ونه کړه، چې رښتیا ځان ته معلوم کړي، دوی زما پرځای پر نورو ډېر باور او اعتماد وکړ، ما خپل زړه په خپله پوهاوه، چې قسمت همداسې دی او ټوله پړه مې پر قسمت واچوله، ځکه مې نو د درس سوچ او فکر له زړه ووېست او هر څه مې الله (ج) ته پرېښودل او دا مې له ځان سره وویل چې الله (ج) تر ټولو ښه پرېکړه کوي.

## له اروانباد څېړنوال...

کورني ژوند چاپېریال له پامه نه غورځاوه، ځکه ده باور درلود، چې ټولنه د یوې کورنۍ مثال لري، نو هرچا ته لازمه ده، چې د کورني چاپېریال او ټولنیز چاپېریال اړیکې له یو او بل سره تړلې وبولي، ځکه هره ټولنه د کورنیو له مجموعې څخه جوړه شوې ده، نو چې کورنی چاپېریال وړ او مناسب وي، هغه ټولنې ته هم لار پیدا کوي او په دې توګه ټولنه خپل اصلي مسیر نه بدلوي.

ما دمخه وویل چې استاد ویاړ لږې او کمې لیکنې کولې، خو هره لیکنه به یې په اکاډمیکو معیارونو برابره وه، دلته د بېلګې په توګه د اروانباد استاد الفت په اړه، چې د کابل مجلې د ۱۳۸۹ کال په ۱ - ۲ ګڼه کې ده، کومه تحقیقي او علمي لیکنه کړې ده، دا مقاله په ټولو اکاډمیکو او علمي معیارونو برابره او د استاد الفت حق یې لکه څنګه چې لازمه ده، پرځای کړی دی، دا علمي لیکنه د ویاړ د خواږه او روان نثر د یوې نمونې په توګه د درنو لوستونکو مخې ته ږدم: "د پښتو ادب له پنځو ستورو څخه یو ځلانده ستوری اروانباد استاد ګل پاچا الفت دی، چې د ۱۳۵۶ هـ ش د لیندۍ د میاشتې په ۲۸مه نېټه راپرېوت، دا ستوری په پښتو معاصر ادب کې د نظم او نثر د یوه ځانګړي سبک او طرز ایجادوونکی دی، دا ځلېدونکی ستوری سل کاله دمخه د پښتني ادب په آسمان کې راڅرګند شو، ده د وینا او لیکنې ځانګړی استعداد درلود او له خپل دغه استعداد څخه یې د ولس د دردونو په انځورولو او زیار ایستونکو د حال په ښودلو کې په ډېره ماهرانه او ځیرکانه توګه کار اخیستی دی. د استاد الفت د نثر خوږوالی او د شعر اغېزه د پښتو په معاصر ادب کې دومره په زړه پورې دي، چې په لره او بره پښتونخوا کې به لږ خلک وي، چې د ده له کلام او شعر سره آشنایي ونه لري او یا یې د نثر ټوټې او د شعرونو څو څو بیتونه په یادو یاد نه وي. پښتانه څومره چې خوشحال خان ختک او صوفي شاعر رحمان بابا پېژني او عقیده ورته لري، زما په اند، په هماغه کچه استاد ګل پاچا الفت هم پېژني. د استاد الفت آثار، منثور دي او که منظوم، الفاظ او کلمات یې په ډېر استادانه او ښکلاییز ډول سره ځای په ځای شوي دي، چې هر لوستونکی مازې په یوه وار لیدو دې ته راکشوي، چې ټول اثر تر پایه ولولي، د محتوا له مخې یې هم مطالب او مفاهیم ډېر رسا، عام فهمه او ژوره معنا لري، همدا لامل دی، چې ټول پوهان یې په یوه اتفاق د فصاحت او بلاغت وتلی او بې سیاله استاد بولي."

د اروانباد ویاړ د نثر لیکنې له پورتنۍ بېلګې څخه دا په ډاګه ثابتېږي، چې لیکنه یې پخه، روانه، عام فهمه او سلیسه ده، ځکه دی په دې باور و چې په لیکنه کې پېچلي او نامأنوس کلمات او لغتونه کارول له یوې خوا لیکنه بې خونده کوي او له بلې خوا لوستونکي په ابهام کې اچوي، نو د یوه لیکوال او څېړونکي هدف باید یواځې او یواځې لوستونکو ته د رغنده پیغام رسول او کره معلومات ورکول وي، نه دا چې د پیغام او معلوماتو پرځای لوستونکو ته سر درد او ستونزې پیدا کړي، همدا لامل دی چې نوموړی لږې او کمې لیکنې کولې او چې لیکنه به یې ښه پخه او کره کړې نه وه، د هغې د چاپولو له پاره به یې بیړه نه کوله، بلکې بیا بیا به یې اسناد او مدارک پسې کتل او د لیکنې د متن روانې او سلاست به یې په ډېره اغېزمنه توګه له پامه نه غورځاوه. اوس چې اروانباد څېړنوال حضرت محمد ویاړ زموږ په منځ کې نه شته، نو دا د دې معنا نه لري چې هغه له موږ څخه بېل شوی دی، بلکې د ده آثار، ادبي لیکنې او ټولنیز کړه وړه هغه څه دي چې د ده یاد به د تل له پاره زموږ په زړونو کې ژوندی پاتې وي او راتلونکي نسلونه به یې له ادبي لیکنو څخه تل ګټوره استفاده کوي.

دا هم یوه ادبي پارچه، چې د اروانباد ویاړ په یاد مې لیکلې ده:

**تل به په زړو کې د دوستانو خاطرې پاتې وي**
**څه به وي نوې او څه نورې به زړې پاتې وي**
**د دوست یادونه تل ژوندي وي د دوستانو زړو کې**
**یو څو خبرې ننه زړونو کې خوږې پاتې وي**
**پرون د یو او بل په مینه سره نه مړېدو**
**نن او سبا به هم هغه خوږې شیبې پاتې وي**
**ویاړه! ته لاړې موږ دې پرېښودو د غم په ټغر**
**دغه د غم درندې شپې ورځې به درندې پاتې وي**
**"غروال" په سپینه ږیره ژاړي اوښکو دارې وکړې**
**په سپینه ږیره به د اوښکو دا دانې پاتې وي**

د خدای (جل جلاله) په لوی دربار کې دعا کوم، چې ویاړ صاحب ته دې جنت الفردوس ورکړي او له ده څخه پاتې ادبي فنپارې دې د راتلونکو نسلونو له پاره د استفادې مصدر وګرځوي.

نوم دې یې یاد او روح دې یې ښاد وي

اخځلیک:

(۱) څېړنوال حضرت محمد ویاړ، په رښتیو کې د استاد الفت د مړینې انعکاس، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، کابل مجله، ۱۳۸۹ کال، ۱ - ۲مه ګڼه، ۲۹ - ۳۰ مخونه.

## پوهاند که...

وي. موږ داسې نه وایو چې (ډګروال انسان) خو (ډګروال اسلم) وایو.

تر دې ځایه دې نتیجې ته رسېږو چې علمي، اداري او رسمي رتبې صفت ته ورته دي، خو صفتونه نه دي او په همدې وجه ضرور نه ده چې د پښتو ګرامر هغه قاعدې وربانديې تطبیق شي چې په جملو او عبارتونو کې یې د صفت د استعمال له پاره لازمې ګڼو.

په ګرامر کې یو بل شی لرو چې (بدل) ورته وایو. (بدل) د اسم غوندې له اسم سره غوټه وي، خو فرق یې دا دی چې بدل د اسم د ښښتن یو حالت نه بیانوي، بلکې په خپله د هماغه اسم بلې بڼې ته چې ممکن د اسم د معرفي له پاره په کار راشي، بدل وایو. کله چې وایو (زرغونه سپینه ده)، د زرغونې یو خصوصیت ښیو، خو کله چې وایو (د بدرۍ لور، زرغونه مې ولیده)، منظور مو دا وي چې که څوک زرغونه په خپل نوم ونه پېژني، نو د مور د نوم په اخیستلو سره خو به یې وپېژني. له بلې خوا د بدل او ورسره اسم د ویلو له پاره هاغسې فشار ته اړتیا نشته، چې د وصفي ترکیبونو د ویلو په وخت یې په صفت باندې اچوو. له دې درکه (د بدرۍ مور، زرغونه مې ولیده) او (ډاکتر داوود مې ولید) څه ناڅه سره ورته دي.

البته، څرنګه چې د بدل او هغه بل اسم (بدل منه) ترمنځ چې بدل یې د توضیح له پاره راځي، خامخا درېږو، نو ډېر ځله یې په منځ کې کامه راولو، مګر د (ډاکتر داوود) د ویلو په وخت نه درېږو او په هېڅ وجه کامه نه ږدو.

په معنوي لحاظ د (بدل) او تر بحث لاندې درجو توپیر ډېر څرګند دی. د (بدل) او (بدل منه) په پاسني مثال کې (د بدرۍ مور او زرغونه) د یو بل معادل دي، مګر (پوهاند ډاکتر) د (درخانۍ) د اسم معادل نه دی.

له خاصو اسمونو سره غوټه علمي او اداري رتبې په وصفي او بدلي عبارتونو سربېره له اسمي ترکیبونو ته هم ورته والی لري. (انار ګله) یو اسمي ترکیب او د ښځو له پاره یو نوم دی. دلته یوازې د ترکیب دویم جز په مونثه بڼه راغلی دی. په مرکبو اسمونو کې دا قاعده عامه ده. په (سپین سترګې) کې یوازې د دویم جز په مونث کولو بسنه شوې ده، حال دا چې د (توره نجلۍ) په وصفي ترکیب کې د ترکیب دواړه غاړې مونثې دي.

څرنګه چې (پوهاند ډاکتر درخانۍ) وصفي ترکیب نه دی، نو د وصفي ترکیبونو په پیروۍ د صفت او موصوف مطابقت په کې ضرور نه دی او کېدای شي، چې د اسمي ترکیبونو په پیروۍ یوازې د ترکیب د وروستۍ برخې په مونث والي یې بسنه وکړو. البته، که یې نوم نه اخلو او یوازې یې په علمي رتبې یادوو، بیا باید، مثلاً، ووایو: پوهانده راغله! لکه (انار ګله) چې بې (ګله) یادوو، (اناره) یې بولو.

نن سبا وګړي تخلصونه لري او له ګڼو تخلصونو دا نه ښکاري چې څښتن یې نارینه دی که ښځه ده. مثلاً که یوه پوهاند ډاکتره، قاسمي تخلص ولري او مونږ ولیکو چې (پوهاند ډاکتر قاسمي وویل)، لوستونکی ممکن پوه نه شي چې دا مېرمن ده، که ښاغلی. د دې مشکل د حل له پاره بهتره ده چې د علمي لقب وروستی جز مونث ادا کړو او ولیکو چې: پوهاند ډاکترې قاسمي وویل. خو که د مېرمن قاسمي نوم (رڼا) وي، بیا ضرور نه ده چې په ذکر شوي مثال کې یې (ډاکتره) وبولو. بیا به لیکو چې: پوهاند ډاکتر رڼا قاسمي وویل.

مونږ دا قاعده یوازې د کار د اسانۍ په خاطر نه جوړوو، بلکې د پښتو د مرکبو اسمونو د قواعدو په پیروي یې مطرح کوو.

موږ (مېرمنه ګلالۍ) نه وایو، بلکې (مېرمن ګلالۍ) وایو، خو دا بهتره ګڼو چې ووایو: دې مېرمنې وویل. د رسمي او علمي القابو له پاره هم دې قاعدې ته پام کولای او لیکلای شو چې: دې ډاکترې وویل.

د ښځو تر نوم دمخه د (مېرمن) کلمه د احترام یو غیررسمي لقب دی چې په معنوي لحاظ علمي، رسمي او اداري درجو ته ورته دی او ګرامري نقش یې سره توپیر نه لري.

د شوي بحث په رڼا کې، زه په دې نظریم چې که یوه ډاکتره د خپل کتنځي له پاره لوحه جوړوي، داسې دې نه لیکي چې: دوکتوره زرغونه احمدي یا دوکتورس زرغونه احمدي. بهتره ده ولیکي: دوکتور زرغونه احمدي.

انجنیر، ډګروال یا روغتیاپال رسمي لقبونه دي. موږ په غیر رسمي ژبه کې هم ګڼ لقبونه لرو چې اکثره یې د نارینه وو له پاره دي: ملا، مولوي، میا، سید، خان، حاجي، بابا، سردار.... په دغو لقبونو کې ځینې مونث معادل لري. مثلاً سیده او حاجیانۍ وایو، خو څرنګه چې ښځې ملایانې نشته او د میا صاحب لور ته د میا لقب نه استعمالوو، نو بحث وربانديې نه کوو. البته، د (صاحب) د لقب له پاره (صاحبه ) لرو. د غیررسمي لقبونو راټولول او په هغو باندې له مختلفو ژبنیو اړخونو خبرې کول، د پښتو ژبې او ګرامر یو بل ناسپړلی باب دی. (حاجي احمد) د یو مرکب اسم غوندې تلفظ کوو، خو (احمد حاجي) د یوه وصفي ترکیب په څېر وایو. هغه (ولی خان) چې فشار په کې په لومړۍ کلمې اچوو، له هغه ولي خانه په معنوي لحاظ څه توپیر لري چې فشار یې په دویمې کلمې لوېږي؟ مونږ ولې ځینې القاب د اسم په اخر کې راوړو (لکه: رحمان بابا) او ځینې د اسم په سر کې (لکه: سردار ولي) ، د دې شي اصلي وجه څه ده؟ هغه اسمونه چې تر یوه زیات لقبونه لري (لکه: امیرعبدالرحمن خان)، خج یې باید په کومه کلمه وي؟ او د مکث قواعد مو باید څنګه وي؟ دا او داسې نورې پوښتنې د ځوانو او تکړه څېړونکو د ځواب انتظار باسي.

## داروابناد وجدي...

کېده او زیاتېده، چې په ۱۳۳۵ کال کې مې د ګوډو او ماتو شعرونو په لیکلو پیل وکړ او څه لیکلو ته مې مخه کړه، په دې موده کې مې د مطالعې ساحه هم پراخه شوه او پردې خپرونو سربېره د نورو خپرونو او ځینو کتابونو مطالعه هم راته میسره شوه او په نورو خپرونو کې مې هم د وجدي صاحب ځینې نورې لیکنې ولوستلې.

په ۱۳۳۹ کال کې زما ځینو لیکنو هم مطبوعاتو ته لاره وموندله او یو شمېر شعرونه مې خپاره شول، په ۱۳۴۰ کال کې د پوهنې وزارت د عرفان او پوهنې د مجلو په اداره کې د رسمي مامور په توګه مقرر شوم او د عرفان او پوهنې د مدیر اروابناد محمد اکبر روشنضمیر له خوا ورته راتلونکو ځوانانو ته یې هم ورښودل، یو وخت بیا د هېواد ورځپاڼې مرستیال او بیا رئیس و، ورته راغلو ځوانانو ته به یې د ژورنالېزم اساسات ورښودل، بیا به یې په کارونو پسې لېږل او بیا به یې د دوی راوړي ګزارشونه ورته سمول او په دې توګه به یې په علمي او عملي توګه د ژورنالېزم درسونه ورکول او هم به یې د دوی په وسیله تهیه شوي جالب رپوټونه د خپلې ورځپاڼې (هېواد) درنو لوستونکو ته رسول.

وجدي صاحب د لیکوالۍ د پیاوړي استعداد او د ژورنالېزم د ښو مهارتونو تر څنګ یوه پخه ملي اسلامي عقیده درلوده، چې د ده لیکوالۍ ته یې پایه او مایه وربخښله، د هېواد د دیموکراسۍ په لسیزه کې چې آزاد مطبوعات رامنځ ته شول او سیاسي ډلې ټپلې جوړې شوې، هم چې همداسې وه، د مداخلې دوهمه حوزه د چک حوزه وه چې حکومت شدیده مداخله کوله، موږ یوه ډله د کمپاین له پاره هلته تللي وو، زه او ښاغلی متین ملتپال تر رایګیرۍ وړاندې ولسوال بندیان کړو او په تحقیقاتو کې یې رانه وپوښتل: "تاسو ولې دې ولسوالۍ ته راغلي وئ؟" موږ ورته ولیکل : موږ خبر نه وو چې سړی خپل ولایت ته باید په پاسپورت ولاړ شي، که خبري وای، نو حتماً به مو پاسپورټ له ځانه سره راوړی وای! او په دې توګه په وچ زور حکومت خپل کاندید کامیاب او بیا د ولسي جرګې رئیس کړ او د وجدي صاحب د وکالت مخه ونیوله شوه.

تر دې وروسته وجدي صاحب بېرته خپل ژورنالستیک فعالیتونه پیل کړل او په خپلو ټولو ورسپارل شویو دندو کې یې د ملي خدمت ده ژر له پېښور نه کوټې ته کډه وکړه او هلته یې خپلو جهادي هلوځلو او د خپل کورني ژوند د چلولو له پاره کار ته دوام ورکړ، زه به هم له خپلو ماشومانو سره د پېښور په سختو ګرمیو کې هلته کوټې ته ورتلم او د اوړي میاشتې به مې هلته لکه په خپل کور کې چې وم، داسې په آرامۍ تېرولې.

وختونه تېرېدل، په ۱۳۷۸ کال له خپلو ماشومانو سره کاناډا ته ولاړم، دوه کاله وروسته وجدي صاحب هم د کاناډا مسافر شو، زه ژر بېرته راستون شوم، خو ده څو کلونه هلته تېر کړل، د ۱۳۸۴ل کال د ثور په پای کې یې غوښتل هېواد ته راستون شي، خو د خدای (جل جلاله) او بنده اراده یوه نه وي، هېواد ته د وجدي صاحب د راستنېدو ټاکلی وخت لا نه و رارسېدلی چې د اجل قاصد راورسېد او وجدي له پاره چمتو ده.

۳ - "ملي لار": دا رساله یې په افغانستان کې د ۱۳۵۷ کال د غویي د اوومې نېټې د کمونستي کودتا تر کېدلو وروسته لیکلې، چې د شوروي د ملیتپارستي ښکېلاک، ښکېلاکي اهداف یې په کې څېړلي، دا رساله په ۱۳۵۸ کال په پېښور کې د "افغان" په مستعار نامه چاپ شوې او اوس یې نسخې لږې ترلاسه کېږي.

۴ - "د افغانستان د عنعنوي جرګو نن او پرون": دا یو پنډ اثر دی چې لومړۍ برخه یې تاریخي څېړنه ده او دوهمه برخه یې د هغو جرګو تحلیلي رپوټونه دي، چې د کمونستانو په وخت کې په هېواد کې دننه او له هېواد نه بهر شوې، دا کتاب د امان خپرولو مؤسسې له خوا په ۱۳۶۷ کال خپور شوی دی.

خوا د پوهنې مجلې –چې ټوله په پښتو خپرېده– د سنبالښت او چاپ چارې راوسپارلې شوې او د لیکوالۍ د تمرین او ودې له پاره مې ښه زمینه برابره شوه. همدا وخت مې لیکوالۍ ته کار وویل، پر شعر، مقالو او څېړنو سربېره مې له عربي نه ژباړې هم پیل کړې، په یوه عربي مجله کې مې یوه مقاله وموندله "اللغة العربیة في افغانستان" څرنګه چې د افغانستان په اړه وه، د "زبان عربی در افغانستان" تر سرلیک لاندې مې په دري وژباړله او څرنګه چې ورځای یې د پیام حق مجله را ته ښکاره شوه، نو هلته مې یوړه، دا وخت د پیام حق مجلې مسوول چلوونکی وجدي صاحب و او هغه وجدي صاحب چې له ړنګو کندوالو نه مې پېژانده، لس کاله وروسته مې مخامخ ملاقات ورسره وشو او ورسره ومې لیدل، مقاله یې د ځینو ملاحظاتو له امله خپره نه کړه، خو پېژندګلوي مو له همدې ځایه پیل شوه او ورو ورو مو دوستي د ورورۍ تر پولې ورسېده.

وجدي صاحب د زده کړو د ګڼو تلاشونو او هڅو ترڅنګ د پروفیسور جالف د ژورنالېزم یو جالب کورس هم لوستی و، ډېر څه یې په کې زده کړي وو، چې په خپل ژورنالستیک ژوند کې یې په خپله هم عملاً پلي کول او د ایډیالوژۍ یووالي دواړه د "افغان ملت" د ډلې غړي کړو او د ګډ سیاسي سنګر ملګري شو، په ۱۳۴۸ کال کې زه د "افغان ملت" د جریدې مسوول مدیر وټاکل شوم او وجدي صاحب د ولسي جرګې د دیارلسمې دورې له پاره د وردګو له چک ولسوالۍ نه ځان کاندید کړ، خو حکومت هم په بېړني ډول د وخت د کورنیو چارو وزیر ډاکټر عمر وردګ بې له دې چې په ټاکلي وخت یې استعفا کړې وي، مؤظف کړ چې له دې ولسوالۍ نه ځان کاندید کړي او بیا د ولسي جرګې له دایرېدو سره د دې جرګې رئیس شي، وجدي صاحب په مېړانه او کلکه اراده مقابلې ته ودرېد، د اعتمادي حکومت که څه هم په انتخاباتو کې ځان بې طرفه ښود، خو په دوو حوزو کې یې شدیده او ښکاره مداخله کوله، چې یوه د مقر حوزه وه چې ښاغلي محمد هاشم میوندوال ځان ترې کاندید کړی و او حکومت یو بېسواده سماواتچي په مقابل کې ورته درولی و او کامیاب یې کړ، چې میوندوال صاحب په خپل اخبار (مساوات) کې د یوه طنز په ترڅ کې ولیکل: زه د افغانستان له هوایي ځواکونو مننه کوم چې زما د کاندیدۍ په حوزه کې یې مداخله ونه کړه! مطلب یې دا و چې ملکي، عسکري پولیسي او نورو دولتي ځواکونو ټولو مداخله وکړه او ربښتیا په روحیه کار کاوه، د داوود خان د جمهوریت په دوره کې بیا هم د "هېواد" رئیس و، کله چې د ۱۳۵۷ کال د غویي د اوومې نېټې خونړۍ کودتا وشوه، خلقیانو په "هېواد" کې د ماموریت ډېره وړه څوکۍ وجدي صاحب ته ورکړه او تر خاصې څارنې لاندې و، په ۱۳۵۸ کال د وردګو مجاهدینو د یوه ډېر پاخه پروګرام له مخې له حکومت نه وسلې واخیستې او له همدې وسلو یې د چک ولسوالۍ آزاده کړه او هلته یې پیاوړې ملي اداره جوړه کړه، حکومت غوښتل چې مجاهدین پخلا او له پاڅون نه راوګرځوي، له کابل نه یې د وردګو یو شمېر مخور مامورین د پلاوي په توګه مجاهدینو ته واستول چې خبرې ورسره وکړي، په دې پلاوي کې وجدي صاحب هم و، هغه وردګو ته له رسېدو سره له مجاهدینو سره ملګری شو، د جهاد په سپېڅلي صف کې ودرېد او قیام ته یې نور هم قوام ورکړ.

وجدي صاحب په وردګو کې ترڅو میاشتو تېرولو وروسته پېښور ته ولاړ، هلته یې د هېواد د آزادۍ له پاره په ټولو جرګو، غونډو منډو او ناستو پاستو کې برخه درلوده او هم یې د "استقلال" د جریدې او نورو خپرونو له لارې قلمي جهاد کاوه، په ۱۳۶۰ کال زه له خپلو دوو وړو ماشومانو (ثریا او امان) سره پېښور ته ولاړم او له وجدي صاحب سره یوځای شوم، خو صاحب د مغزي سکتې د ناروغۍ له امله ساه ورکړه او د ده له خوا تر ټاکل شوې وخت وړاندې یې جنازه هېواد ته راغله او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو! اروا یې ښاده اوسه!

د وجدي صاحب د قلمي پنځونو په اړه باید ووایم، چې دوی په ژورنالستیکو لیکنو سربېره پاخه ټولنیز تحلیلونه کول، څېړنې یې کولې، لنډ داستانونه یې لیکل او د افغاني کلتور په اړه یې ژوره مطالعه او څېړنې درلودې، ګڼ کتابونه یې لیکلي چې چاپ او ناچاپه راپاتې دي، د نمونې په توګه دا لاندې څو کتابونه او رسالې یې دلته یادوم:

۱ - "د روښانیانو روښانه ملي لار": په ۱۳۵۳ کال یې لیکلی، چې د بایزید روښان د سیمینار په ویاړ چاپ شوی و، خو له دې کبله چې مغل په کې غندل شوي وو، تر وېشلو مخکې سانسور شو، یوه نسخه یې له ما سره شته، چې ان شاءالله ژر به خوره شي.

۲ - "د افغانانو ملي کرکټر": د افغاني دودونو او پښتونولۍ په رڼا کې یوه څېړنه ده، چې د ۱۳۵۴ کال شا او خوا لیکل شوې، بیا یې اروابناد علامه حبیبي ته د نظر له پاره سپارلې وه، چې ما ته یې قلمي نسخه د اروابناد علامه حبیبي له ځاني لیکنو سره لاسته راغله او اوس د چاپ

۵ - "د زړونو او دماغونو ماینونه": دا یو ټولنیز تحلیلي اثر دی، چې تعصبونه یې په کې څېړلي او په افغانستان کې یې د ځینو کسانو له خوا د ناولو قومي، ژبنیو او سمتي تعصبونو عوامل تحلیل کړي او د هغې د له منځه وړلو نسخې یې وړاندې کړې دي، دا اثر په ۱۳۷۹ کال د افغانستان د کلتوري خدمتونو ادارې چاپ کړی دی.

۶ - د لنډو کیسو مجموعه چې ناچاپه ده.

۷ - "لویه لوبه" (بازی بزرګ): په دې اثر کې د افغانستان د وروستیو لسیزو پېښې د ښکېلاکي اهدافو په رڼا کې څېړلې شوې، چې په پښتو او دري دواړو ژبو خپور شوی دی.

همدا راز ځینې نورې لویې او وړې رسالې یې هم لیکلې، چې باید راغونډې او خپرې شي.

## یونلیکونه...

ورکوي. انسان عجیبه مخلوق دی، همېشه یې له ځان سره دښمني کړې ده. کوم شي چې خوند ورکړی، هغه ورته خپل دښمن ښکاره شوی دی.

د ربښتین صاحب، شهرت ننګیال او د ځینو نورو له یونلیکونو پرته زموږ زیاتره یونلیکونه په رسمي ژبه دي. له رسمي ژبې نه لوستونکی معلومات خو اخلي؛ خو خوند ترې نه شي اخیستلی. موږ وینو چې زیاتره لیکنې لوستوال د سبک له کبله هم لولي. دا سبک یوازې شاعرانه نه وي، بلکې بې تکلفي هم د ادبي سبک ځانګړنه ده. د بې تکلفۍ مطلب دا دی چې ته چا ته کیسه کوې، چې لوستونکی د کمترۍ احساس ونه کړي. ټوکې ټکالې، خاطرې او طنز په سفرنامه کې خوند پیدا کوي.

رسمي لیکنې عموماً په ګرامر برابرې وي، خو بې تکلفه لیکنې ښایي ولسي ژبې ته ورنژدې وي. مثلاً: خو خبرې دې دومره هم بې تکلفه کېږي نه، چې لوستونکي ته بې ادبي ښکاره شي یا په کې د چا سپکاوی نغښتی وي. مطلب د سیورې او لمر پر برید تګ په کار دی. که خبره رسمي شي، لکه زموږ زیاتره یونلیکونه چې دي، هم بې خونده کېږي او که ډېر بې تکلفه شي هم.

سفرنامه عموماً د دوو فرهنګونو پر پرتله ولاړه وي. دا پرتله ارادي هم وي. لیکوال خپله ټولنه له هغې بلې ټولنې سره، خپل هېواد له هابل هېواد سره پرتله کوي او لوستونکي ته وایي چې د هغوی او زموږ ترمنځ څومره توپیر او ورته والی دی. هغوی ولې پرمختللي دي او موږ ولې پاتې یو. په دې پرتله کې ښایي یا مشابهتونه ډېر وي یا توپیرونه، خو که لیکوال د دواړو پرتله ظاهرو هم نه کړي او د هغې ټولنې یو اړخیز انځور وکاږي؛ نو هم له لیکوال او لوستونکي دواړو سره خپله ټولنه په ذهن کې وي او دواړه نا ارادي دا پرتله ترسره کوي. د هغه هېواد شنه غرونه ښایي، د خپل هېواد لغړ غرونه وریاد کړي یا د هغو خلکو یوالېتوب د خپلې ټولنې راشه درشه ذهن ته ورولي.

د یونلیکونو ډېرې ګټې دي؛ یوه دا چې د انسان فکر له تنګ چوکاټه راوباسي او انسان شموله کوي یې. لوستونکی چې د هغې ټولنې د خلکو فکر ولولي، نو ښایي پر مخالفت یا ړانده ملاتړه باندې یې فکر وکړي. د فرهنګونو ترمنځ راشې درشې او راکړې ورکړې ته لار جوړوي. لوستونکي د هغې ټولنې له اخلاقو، بریاوو او ناکامیو نه په خپل ژوند کې استفاده کولای شي. لوستونکي ته د پېښو د لیکلو استعداد ورکوي او د انسان د سیاحت تنده خړوبوي.

د نورو سفرونو او د سفرنامې له پاره د سفرونو توپیر دا دی چې نور سفرونه د یوه بهرني هدف له پاره ترسره کېږي. ښایي د سوداګرۍ له پاره وي، یا سیاسي وي، یا د بلې کومې اړتیا له مخې وي، خو د سفرنامو سفر په خپله هدف وي. په نوره نړۍ کې لیکوال د سفرنامو د لیکلو له پاره سفرونه کوي. دا کار به موږ ته -چې بېوزلي یو -وزګارتیا او د پیسو غورځول ښکاري؛ خو اصلاً داسې نه ده. د سفرنامو سفرونه تر ډېرو ضروري سفرونو مهم وي.

## غزل

**نصرالله ناصر**

د سترګو جام به مې پیشکش کړم ستا غمونو ته
څیرې ګرېوان به مې داوښکو سېلابونو ته
را اوري چې غمونه ستا له لوري په هر دم
سینه ځولۍ مې ده نیولې ستا اورونو ته
کله چې غم دربانديې زور شي دې ته پام کوه
پرې به دې نه ږدمه یوازې ستمونو ته
شپه او ورځ که به مې هېره یې یوه ګړۍ
که بې وفا وم غورځوه مې ګړنګونو ته
چې مې له تا سره د مینې سوګند یاد کړ
کله غوږ باسم د اغیارو خبرونو ته
راشه ګلې راشه اوس له ما سره نصرت وکړه
یوازې مې پرې نه ږدې د دنیا ډېرو غمونو ته
بڼ د زړه به د "ناصر" هله ښېراز شي
چې سر پرېکړی وي ولاړ ستا ګوزارونو ته
۱۳۶۷/۲/۱۴

چهارشنبه ▣ ۹ -۱۲ مه ګڼه ▣ دریېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۳۳ - ۲۳۶ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د وږي (سنبله) ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د ذوالحجې ۳مه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د سپټمبر ۱۷ مه ▣ ۴ مخ


# زېرې

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمد اصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانســـتان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکـــز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار، کابل – افغانستان


په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

# له اروابښاد څېړنوال حضرت محمد ویاړ سره وروستۍ کتنه

⊡ څېړنپوه محمد عارف غروال

د ۱۳۹۴ هـ ش کال د غبرګولي دولسمه نېټه د سهار څه ناڅه اووه بجې وې، زموږ د سپرلۍ موټر د دفتر پـه لـور پـه چټکـۍ سره روان و، چې د بګرامیو ولسوالۍ د حسین خېلو لېسې ته موټر ورسېد، نو زما د ټېلفون زنګ وشرنګېده، لـه جیب نـه مې ټېلفـون راواخیست، کـه ګـورم د حضرت محمد ویاړ له ټېلفون نه زنګ راغلی دی.

څېړنـوال حضـرت محمـد ویـاړ د جـوزا پـه یوولسمه نېټه یوه زیاته شېبه په دفتر کې راسره ناست و او پـه روغتـون کـې د ډاکټرانـو د ښـې درملنې په اړه یې ډېر څه وویل او موږ ټول په دې ډاډه شو، چې کـه خدای (جل جلالـه) کـول، نـو ویاړ اوس له خطر څخه راوتلی دی، ځکه دی چې له روغتون نه رخصت شو، نو د کور پرځای دفتر تـه راغـی، چـې د ده دا کـار زمـوږ د لا زیـاتې ډاډینې لامل وګرځېد.

ما چې ټېلفون ته ځواب ورکړ، نو لـومړی مـې ورته وویل: ویاړ صاحب! السلام علیکم، فکر کوم صحت به دې نن نور هم ښه شوی وي، کـه څنګه؟ ایا دفتر ته د راتګ توان لرې او کـه نه؟ خو په ځواب کې راته وویل شول چې: کاکا! زه د ویـاړ زوی نصیر یـم او غوښـتل مـې تا تـه خبـر درکړم، چې د پلار زنه مو اوس وترله او هغه همدا شېبه په حق ورسېد، زما لـه خولې چیغـه ووتـه او ټېلفون مې له لاسه پرېوت.

یـوه شېبه چوپ پـاتې شوم، مغزو مـې راسره همکـاري پرېښـوده، خـو وروورو پـه خـود شـوم او فکر مې وکړ، چې اوس باید د هغه د جنازې او نورو اړوندو مراسمو غم وخوړل شي، نو مـې ټېلفـون لـه چوکۍ څخـه راواخیسـت او بېرتـه مـې نصیر تـه زنـګ وواهـه، ورتـه ومـې ویـل: نصـیرجانه! د تکفین او جنازې چارې څه ډول په پام کـې نیـول شوې دي، ده له ټول پروګرام څخه خبر کړم، بیا مې څېړنپوه سید محی الدین هاشمي ته زنګ وواهه او هغه مې خبر کړ، ده وویـل: پـه دفتر کې به ټول وروڼه په ګډه مشوره تصمیم ونیسـو، زه هم دفتر ته نږدې شوی یم.

هو! اروابښاد څېړنوال حضرت محمد ویـاړ زموږ د ادبـي کـاروان پخـوانی او ځنـډن ملګـری و، پـه ډېرو علمي سیمینارونو او کنفرانسونو کې مـو یـو ځای برخه درلوده، دی فولکلوریست لیکـوال و، لیکنه یې په اکاډمیکو معیـارونو برابره وه، ده بـه ډېرلږ څه لیکـل، خو پـه ادبـي معیـارونو برابـر او مستند به یې لیکل، د علوموا کاډمۍ پـه علمي



چوکـاټ کـې یـې د یـو زیـات شمېر استادانو د روزنې چارې هم په غاړه درلودې، خو لارښوونه بـه یې داسې وه، لکه د یوه مشر استاد نه، بلکې د یوه ملګري لارښوونه چې وي، د اکاډمۍ ډېرو ځوانو استادانو چې په پښتو فولکلور کې بـه یـې علمي پروژې درلودې، دا هیله وه چې د دوی د رهنمایۍ چارې ویـاړ پـه غـاړه واخلـي، ځکـه هغـوی بـاور درلـود، چې نومـوړی یـې ښـه او مناسبه لارښوونه کولای شي.

د اروابښاد ویاړ ادبي او فولکلوري لیکنې پـه کابل مجلې، زېري جریدې او عرفان مجلې کـې ډېرې چاپ شوې، چې د ادب د شاګردانو لـه پـاره کـــافي مـــواد او لارښـــوونې لـــري، علمـــي سیمینارونو ته یـې هم زیـات شمېر څېړنیزې او علمي مقالې لیکلې دي، چې د ادب د مینه والـو د استفادې وړ دي، ځکـه د ده لیـکنه کـه لـه یـوې خوا ډېره روانه او ساده وه، نو له بلې خوا یـې کافي معلومات درلودل او لوستونکي ورڅخه مناسبه استفاده کولی شي.

څېړنـوال ویـاړ د پراخـې حوصلـې خاونـد و، اجتماعي راشه درشه یـې پـه اسلامي او افغـاني اصولو ولاړه وه، کورنی او ټولنیز ژوند یې له یـو اوبـل سره تړلـي و، لکـه څنګـه یـې چې د خپلـې کورنۍ له غړو سره د مینې او خلوص په فضا کـې ژونـد کـاوه، همـدا شـان یـې پـه ټولنـه کـې هـم د

⟵ دویم مخ

✷ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

### د کاندید اکاډمیسین عطایي د زوکړې پنځه اتیایمه کالیزه ونمانځل شوه

د اروابښاد کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي د زوکړې د ۸۵ یمې کالیزې په مناسبت یـو ورځنی علمي سیمینار په کندهار کې د زمري په اوومه جوړ شو. دغه سیمینار د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت په زیار ترسره شو او پـه کې پر یـو شمېر چاروا کو سربېره، د کابل او کندهار پوهنتونونو استادانو، د علومو اکادمۍ علمي غړو، لیکوالانو او فرهنګیانو ګډون درلود. پـه دې سیمینار کې د عطایي پـر ژونـد، شخصیت او فـن لیکـل شوې مقـالې واورول شـوې. د سیمنیار پـه پرېکړه لیـک کـې د اروابښـاد عطایي د ناچاپو آثارو او هغو آثارو د بیاچاپ کېدو غوښتنه شوې وه، چې اوس نه موندل کېږي. دغـه راز د نوموړي د مقبرې جوړېدو، پـه کابل او کندهار کې د یوه ښوونځي، څلورلارې او یا هم کوم تـالار د ده پـه نوم کېدو او پـه خورو ورو مجلو کـې د هغـه د خپرو شویو مقـالو راټولولـو او چاپولو غوښتنه شوې وه. عطایي په ۱۳۰۹ لمریز کال په کندهار ښار کې زېږېدلی دی. په خپل ژوند کې یې ۲۳ مسـتقل آثـار او کابو سل علمي مقالې لیکلې دي. نوموړی د ۱۳۸۰ لمریز کال د تلې میاشتې په ۱۹ مـه د زړه ناروغۍ لـه امله په کابل کې وفات او د شهداء صالحین په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

### په پکتیا او کابل کې مشاعرې وشوې

- د پکتیا پـه ډنډې پټان ولسوالۍ کې "**هنر موږ لـه کړاوونو وباسي**" تـر سرلیک لاندې مشاعره د زمري پـه لسمه جوړه شوه. پـه دې مشاعره کې د دغه ولایت د مرکز ګردېز ښار، ډنډې پټان او شاوخوا نورو ولسوالیو شاعرانو او د شعر مینه والو برخه اخیستې وه، چې شاعرانو پـه کې لـه حالاتو سره سم خپل شعرونه ولوستل. د مشاعرې د تنظیموونکو پـه وینا، لـه دې مشاعرې یې اساسي موخه دا وه، چې شاعران او د شعر مینه وال یـو لـه بل سره لـه نږدې اړیکې پیدا کړي.
- په کابل کې **د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو د ۹۶ مې کلیزې** پـه ویـاړ مشاعره د "افغان ادبي بهیر" او "میډیوټیک افغانستان" لـه خوا د میډیوټیک افغانستان د دفتر پـه انګړ کې د زمري پـه **۳۰** مه، جوړه شوې وه، چې پـه کې لسګونو لیکوالو او شاعرانو برخه اخیستې وه. پـه مشاعره کې ګڼو کسانو د هېواد د روانو ناخوالو، د جګړې غندنې، د سولې اړتیا او د خپلواکۍ ساتلو پـه اړه خپل شعرونه وویل.
- د پکتیا پـه مرکز ګردېز ښار کې هم د ښېتر د دودیزې مشاعرې د لسو کلونو بشپړېدو پـه ویـاړ لویـه مشاعره د زمري پـه **۳۰** مـه، ترسره شوه، چې پـه کـې لـه دې ولایت سربېره د کابل، ننګرهار، لوګر،

## ادبیات له ...

د غضنفر په وینا، د ادب کلمه له عربي نه، بلکې له اروپايي ژبو څخه پښتو ژبو ته راغلې او دا چې د (ات) وروستاړی یې اخیستی؛ نو موږ ډېر داسې پښتو او یا عربي مروجې کلمې، چې اوس پښتو شوي، لرو، چې د (ات) روستاړي لري، لکه، مشکل/ مشکلات، موضوع/ موضوعات، ریاضي/ ریاضیات او ادب/ ادبیات او یوائې د (ات) وروستاړي له مخې، موږ دغه کلمې عربي بللای نه شو، چې تر ډېره دغه منطق پر ځای هم دی، دا ځکه په پښتو ژبه کې چې څومره ژانرونه موجود دي او اوس پښتو شوي دا ټول په لومړي سر کې له اروپايي ژبو اردو ته راغلي او یا نېغ په نېغه پښتو ژبې ته راغلي، چې پر دې حساب په خپله د ادب کلمه هم په کې شامله ده، نو که چېرې دا خبره ومنو، بیا هماغه د لټرېچر پېژندنه تر نورو تعریفونو غوره ده او د هغې یو لوی غوره والی دا دی، چې هره مخیله وینا ادب بولي.

کله چې د مخیلې وینا خبره کوو، نو زموږ مطلب لږ څه نور هم اسانېږي او په دې توګه دې پایلې ته رسېږو، هر هغه وینا چې خیال ونه لري، هغه ادب نه دی، چې ننني ادبپوهان هم په همدې خبره ډېر ټینګار کوي، خیال او تخیل بیا هغه استعداد او اړتیا ده، چې له لیکوال سره نېغ په نېغه مرسته کوي، چې خپل فکر او پوهه په روانه ژبه په خورا زړه راښکونکي او په ډېر مهارت او بسنده توګه بیان کړي، خو خپله یې عقلي کړنه ده، یا په بله وینا: خیال هغه استعداد او اړتیا ده، چې له واقعیت نه د ترلاسه شویو انطباعاتو په وسیله په بشري شعور کې نوي حسي یا فکري انځورونه وپنځوي؛ خو شرط به یې دا وي، چې په ټاکلې شبېه کې رښتیني یا واقعي موجودیت ونه لري (٦).

نو وینو، چې د ادب لمن یو څه پراخه او جوته شوه او اوس د پخوا په څېر یوائې ښوونیزو مسایلو ته ادب نه ویل کېږي، بلکې خیال لرونکي آثار ادب بلل کېږي، خو دا تېروتنه هم ونه شي، چې ادبي ژبه او ادب ګواکې یو شی دی، ځکه په دې تېروتنه کې بیا موږ د نورو علومو له پاره هم خیال ټاکلی، چې دا به لویه تېروتنه وي. البته له پورته تعریف څخه باید داسې اخیستنه ونه شي، چې ګواکې دا یو منل شوی او جامع پېژند دی، خو نسبتاً تر پخوانیو هغو ښه او اوسني ادبپوهان یې کابو منل شوی بولي. پوهان د ادب جمع ادبیات بولي او ادبیات په حقیقت کې د ټولنیز ژوند مهمه اړتیا ده، په دې معنا، په ټولنیز ژوند کې، چې ادیب کومې تجربې کړې وي، هغه یې د همدغې پوهې په وسیله له ټولنې اخیستې او بېرته یې له خپل تأثر سره یو ځای ټولنې ته وړاندې کړې دي. که چېرې موږ نړۍ د بېلابېلو ټولنو ادبیات له نظره تېر کړو او ژور فکر ورته وکړو، دا به تر ډېره زباد شي، چې په هغوی کې هرو مرو د ټولنې ټولنیز ارزښتونه، فکرونه، لیدلوري، تجربې، مادي او معنوي ارزښتونه، موخې، پیغامونه، کلتوري او فرهنګي ارزښتونه او ان ولسي دودونه په کې نغښتي، چې په حقیقت کې د لیکوال یا ادیب موخه ده او په ډېر کړاو په کراتو مراتو تجربو یې له ټولنو را اخیستني کړي او بېرته یې خپلې ټولنې ته وړاندې کړي؛ خو ډېر ځله داسې هم شوي، چې ټولنو یا ټولنې په ډېرې اسانۍ دا هر څه نه دي منلي، چې دا کار بیا هم د لیکوال یا ادیب ستونزه یو څه زیاته کړې او اړ شوی، چې د حساس کېدلو له پاره یو څه دقیق او څه هم عاطفي او احساسي شي، په دې معنا، چې په ځینو ځایونو کې عاطفه دومره پیاوړې کړي، چې لوستونکی پرې ډېر فکر کولو ته نږدې کوي او نېغ په نېغه یې قضاوت کولو ته اړ باسي او یا ترې دومره اغېزمن شي، چې د خبرې تل ته یې هڅو ځان نه وي رسولی او دغه ډول ادبیاتو ته بیا هنري ادبیات ویل کېږي، چې ادب څېړونکي یې ډېر ځله خیال تر حقیقته اوچت بولي او د ادیب کمال ته ګوته په غاښ کېږي او دغه هېښېدنه د دې لامل کېږي، چې دغه صنف یا ژانر ته هم ځانګړی درناوی وکړي او تر نورو ژانرونو یې اوچت وبولي؛ خو د غه ژانر هم د وخت په تېرېدلو سره د خپل لوستونکي یا مینه وال ټولو پوښتنو او غوښتنو ته ځواب نه دی ویلی او ډېر ځله یې اړخ بدل کړی دی، چې ادیب یې بیا هم فکر کولو او نویو تجربو ترلاسه کولو ته اړ ایستی، چې د وخت په تېرېدلو سره یې بیا هم نوی ژانر پیدا کړی او له ټولنې سره یې شریک کړی او بالاخره د همدغو غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره پښتو ادب نن کابو د شپاړسو په شاوخوا کې نثري ژانرونو لرونکی دی، چې هر یو یې په خپل ځای او د وخت په تېرېدلو سره خپل خپل ارزښت لري او ستر ګې پټول ترې مهال خبره ده؛ خو کومه خبره، چې مهمه ده، هغه دا ده چې دغه ژانرونه اوس په کوم ځانګړي مؤسس، مؤسسینو او یا هم وګړو پورې نه اړوند ېږي، بلکې په ټولې نړۍ یې وزرې خورې کړي او د هرې ټولنې او هر ادب رنګ یې خپل کړی دی او هره ټولنه یې اوس د ځان بولي او د همدغه ارزښت له مخې، پښتانه لیکوال هم په دې باور دي، چې په پښتو ژبه کې د نورمحمد تره کي له ناولونو سره د هېڅ هېواد د لیکوالو ناولونه سیالي نه شي کولای، همداسې دا نور صنفونه هم درواخله. نو که خبره مو را لنډه کړې وي، ادبیات خورا ډېرې لوړې او ژورې لري، چې پوره بحث کول پرې د دې څېړنې له حوصلې څخه وتلې خبره ده، خو هغه څه چې دلته یې یادونه اړینه ده، هغه دا ده چې ادبیات له علمي پلوه په درېوو برخو وېشل کېږي، چې په وار سره: (۱) د ادبیاتو تاریخ. (۲) د ادبیاتو تیوري. (۳) او ادبي اثارو کره کتنه ده. په دې معنا، که چېرې یو لیکوال په دې بحث کوي، چې (کلتور او ټولنه) او (لوړ خیالونه او ژور فکرونه) کتابونه آثار دي او که نه؟ دا بحث تر ډېره د ادب د تیورۍ پورې اړه لري، خو که د همدغو آثارو ښېګڼې او نیمګړتیاوې په ګوته کوي، هغه بیا د ادبي کره کتنې بحث دی، خو که په دې بحث متمرکز کېږي، چې لومړی باید کوم آثار معرفي شي یا کوم یو ولیکل شي، دا بیا د ادبیاتو تاریخ پورې اړه پیدا کوي، خو دې خبرې ته مو هم پام وي، چې دا یوه ضمني یادونه وه، په حقیقي توګه د دغو بحثونو جلا کول یو څه ستونزمن دي.

که له دې بحثه را تېر شو، نو ادب او ادبیات ادبپوهانو د بڼې او منځپانګې له پلوه هم په برخو وېشلي، چې په لاندې توګه ورته نغوته کېږي: په عامه توګه ادبیات د جولې او منځپانګې له پلوه په دوه ډوله دي، چې یو یې تخلیقي ادبیات او بل یې تحقیقي ادبیات دي (۷)، چې ډېر ځله تخلیقي ادب ته هنري ادب یا هنري نثر هم وایي، خو د دې ترڅنګ ادبپوهان پر پورته ډلبندۍ سربېره ادبیات د بڼې له مخې په عمومي توګه په دوو سترو برخو وېشي، چې یو ته یې شعر او بل ته یې نثر وایي، شعر خپل ډولونه او چوکاټونه لري او نثر خپل، چې د بحث د اوږدوالي له مخې ترې اوس تېرېږو او که ژوند و، په راتلونکي کې به پرې تفصیلي بحث وکړو.

### اخځلیکونه:

(۱) څېړنوال سید محی الدین هاشمي: د نثري ادب ډولونه (ادبي ژانرونه)، وحدت خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۳۹ مخ

(۲) سحر ګل سحر کتوزی: ادب څه ته وایي؟، بورا وېبپاڼه.

(۳) پوهاند عبدالحی حبیبي: د پښتو ادبیاتو تاریخ (لومړی ټوک)، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۴ مخ.

(۴) صدیق الله رښتین: د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۵ مخ.

(۵) اسد الله غضنفر: ادبیات څه ته وایي؟، تاند انټرنټي پاڼه، ۱۳۹۳ لمریز کال.

(٦) ریمونډ لارنس برت: تخیل، د سید نظیم سیدي ژباړه، پښتو کاروان د ژباړې مرکز، کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال، ۱۰ مخ.

(۷) د نثري ادب ډولونه، ۱ مخ.

---

میدان وردګو، خوست او یو شمېر نورو ولایتونو شاعرانو او د ادب مینه والو برخه اخیستې وه. دغه مشاعره چې د پکتیا ولایت مقام له لوري د پکتیا له فرهنګیانو سره په ګډه جوړه شوې وه، شاعرانو په کې د غزلونو ترڅنګ طنزي شعرونه هم وویل.

### د (راشه زما جانانه) اثر مخکتنه وشوه

د افغانستان قلم ټولنې د ۱۳۹۴ کال د زمري میاشتې په ۲۲مه، د دغې ټولنې په ودانۍ کې د مطیع الله صالح د شعري خدمتونو د درناوي په ویاړ او د ده د اثر (راشه زما جانانه) د مخکتنې ادبي غونډه جوړه کړې وه. ګڼو شاعرانو او لیکوالو په کې ګډون کړی و. لومړی د یو شمېر پوهانو له خوا ویناوې وشوې، ورپسې مشاعره وشوه او درېیمه برخه موسیقۍ ته ځانګړې شوې وه.

### "پښتو ژبه او ژبپوهنه" علمي- څېړنیزه پروژه دفاع شوه

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د د ژبو او ادبیاتو مرکز علمي غړي ښاغلي څېړنوال مولاجان ټنیوال د څېړنپوه علمي رتبې ته د لوړاوي له پاره له خپلې علمي پروژې، چې "پښتو ژبه او ژبپوهنه" تر سرلیک لاندې وه، د ۱۳۹۴ لمریز کال د زمري میاشتې په ۲۷مه په بریالیتوب دفاع کړه. په دې ناسته کې د علومو اکاډمۍ لسګونو علمي غړو او یو شمېر نورو پوهانو ګډون کړی و.

### د غني خان د نظمونو انګلیسي ژباړه چاپ شوه

د پښتو ژبې د وتلي شاعر غني خان (۱۹۱۴ - ۱۹۹٦) د شعرونو یوه برخه په دې وروستیو کې انګلیسي ژبې ته د Pilgrim of Beauty (د ښکلا ظاهر یا د ښایست زیارت کوونکی) په نوم ژباړل شوې او خپره شوې ده. د نوموړي د شعرونو په دې انګلیسي ژباړه کې ۱۴۱ نظمونه راغلي، چې پېښور کې مېشت امتیاز احمد صاحب زاده ژباړلي دي. ده ویلي: ''انګلیسي ته مې د غني خان د نظمونو ژباړه په ۱۹۹۷ کال کې پیل کړې وه، چې په شاوخوا دوو کلونو کې بشپړه شوه''. دی وایي، د غني خان هغه نظمونه یې ژباړلي، چې د هغه له خولې یې اورېدلي او د هغه خوښ و او یا هم ژباړن خوښ کړي وو. "بي بي سي وېبپاڼه"

### د پښتو ژبې او ادبیاتو اړوند یو شمېر کتابونه چاپ شول

"**ژبساتنه**" او "**ادبي ګروېږنې**": د څېړندوی حبیب الله رفیع دوه جلا آثار دي، چې په جلال آباد کې د مومند خپرندویې ټولنې له لوري چاپ شوي دي، چې لومړی ۲۴۱ او دویم ۳۱۵ مخونه لري.

**جادوګر هنر**: د شعر او شاعرۍ په باره کې د استاد اسد الله غضنفر د مقالو کتاب دی، چې په ٦۱۳ مخونو کې مومند خپرندویې ټولنې چاپ کړی دی.

**پښتو معاصر داستاني ادبیات (تاریخي – انتقادي کتنه)**: د محمد زرین انځور ۵۵۲ مخیز اثر دی، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې (جرمني) له خوا د دانش خپرندویې ټولنې په چاپځي کې چاپ شوی دی.

**پښتو وییپوهنه او وییرغاونه**: د پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار اثر دی، چې په جلال آباد کې د مومند خپرندویې ټولنې له لوري د دوهم ځل له پاره په ۷۸۲ مخونو کې چاپ شوی دی.

**د پکتیا د ولسي ادب مرغلرې**: د څېړنپوه علي محمد منګل اثر دی، چې د میهن خپرندویې ټولنې له خوا په ٦۲ مخونو کې چاپ شوی دی.

**ادبي ملغلرې**: د پوهیالی سید اصغر هاشمي د مقالو ټولګه ده، چې د پښتو ادبیاتو د تاریخ د لرغوني (لومړي)، دویمې او درېیمې دورې د ځینو لیکوالانو، شاعرانو او عالمانو په اړه لیکل شوې دي او د شعر پېژندنې په اړوند هم مقالې په کې شته.

**رڼه چینه**: د ننګرهار کلید راډیو د یوې ادبي خپرونې پانګه ده، چې په کې د پښتو ژبې د بېلابېلو شاعرانو او لیکوالو ژوندلیکونه او په اړه یې داستادانو او فرهنګیانو نظرونه ځای شوي دي. د رڼې چینې ادبي او فرهنګي خپرونې لیکل شوي مواد د دې راډیو د خپرونو مسوول توریالي راټول کړي او د یوه اثر په بڼه یې چاپ کړي دي.

دغه راز "**لار ورکی**" د ایمل پسرلي د لنډو کیسو مجموعه؛ "**بلخیون**" (د بلخ سفرنامه) د اورنګ صمیم یونلیک، "**اوربلکۍ**"، "**د مرګ ماتې**"، "**بېچاره شتمن**" او "**نا امېده هڅه**" د انجنیر محمد اصف عمر ناولونه، "**د دوندر لېوان**" (ژباړه)، چې علم ګل سحر پښتو ته ژباړلی، "**زه د چا لور نه یم**" او "**د ځوانۍ په ځنګل کې**" مبارک شاه داوودزي پښتو ته راژباړلي، "**باډیوې خارمه**" د شفیقې خپلواک د شعر دویمه ټولګه، "**د اغزو حسن تعلیله**" د ډاکټر جنید شریف درېیمه شعري ټولګه چاپ او خپاره شوي دي.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.